AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات درین نوشته بدوش نویسندهٔ مطلب میباشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۱۹ / ۰۸ / ۳۱

# مینه او رضا

زما خو ټول ځان او زړه تا سره دی
دا راته وایه ستا زړه چا سره دی
وايي چې لار وي د يوه زړه بل ته
دا متل ګوره په ريښتيا سره دی
د ژوند او مرګ واک مې ستا پښو کې ایښی
دا واک نه ما او نه بل چا سره دی
د سربښندنې دومره پورته حد کې
يو، نيم لېدن دي هم په غلا سره دی
لامل د ټولو انساني ښېګڼو
د ځان او زړونو په صفا سره دی
ژوند د جوړښت او درناوی يو نوم دی
ژوند په همدې مفهوم، مانا سره دی
مینه او زور سره پردي دي دواړه
مینه کې هر قدم رضا سره دی
چې ته راضي يې زه به هم راضي يم
د رضا ژوند ډک له خندا سره دی
شعروزمه خیالونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ